**بسم الله الرحمن الرحيم**

## په اسلام کې د سیاستوال ځانګړتیاوې

په اسلامي نړۍ کې د سیاستوالو کم رنګي په دې خاورو کې د اسلامي تمدن د سیاسي هویت له پیکه کېدلو سره څرګنده اړیکه لري. د سیاسي بنسټ(خلافت) له پرځېدو راهیسې مسلمان هیوادونه سیکولر سیاسي نظامونو ته ور مات شول او د نورو لاس ته اړ سیاسي ځناور یې وزېږول، چې خپله وفاداري یې پر غربي یرغلګرو وپلورله.

په ۱۹۲۴م کې د خلافت د بنسټ له نړېدو راهیسې اسلامي امت د استعمار او تفرقې په سیورې کې په مراتبو تر زوال لاندې راغلی، تعلیمي نصاب یې د لوېدیځ تر اغېز لاندې راغلی او امت د اسلامي تمدن له میراث څخه بې برخې شوی دی. ځکه خو اسلامي امت د لوېدیځې ترمینالوژۍ پر بنسټ د سیاست له سیکولر تعریف سره نور هم اشنا شوی دی، په دې ترمینالوژۍ کې سیاست تل د واک لاس ته راوړلو د هڅو په مانا تعریف شوی دی، چې د مشروع او نامشروع لارو د واک غځول یا ډېرول او په واک کې پاتې کېدل یې اصلي موخه ده. دغه ډول سیکولرې مفکورې سیاسي ګوندونه را وټوکول او پراګماتیک اشخاص یې وزیږول چې نور یې شعار د دولت خدمت نه وو او هر څه شمېرل شوي ګڼې. دا په دې مانا؛ وایي «ما مصرف کړی نو ما ته یې باید په بدل کې کوم څه د حکومت له لوري را کړل شي. په دغې ځانګړنې سره خلک د سیاست لپاره خدمت نه کوي، بلکې د سیاست لپاره ژوند کوي.»

پایله دا شوه چې د ماکیاولي پر تګلارې را منځته شوي سیکولر سیاسي ګوندونه په انتقالي سیاسي ګوندونو کې بنسټیز شول او د مسلمانانو په خاورو کې یې د «سیاسي حیواناتو» دریځ خپل کړ. دا یو معقول کار وو. طبعاً په دغه ډول ککړ سیکولر سیاسي محیط کې د سیاست والو را ټوکېدل سخت دي. دغه سیاسي حیواناتو د استعمار ګرو چوپړ ته د خلکو پر چوپړ لومړیتوب ورکړ، دوی استعمارګرو ته اجازه ورکړه چې د دوی د هیوادونو طبعي شتمني غلا او تالا کړي، د خلکو ژوند ته یې هیڅ پاملرنه ونه کړه هغه چې له غربته کړېږي او ژوند یې ورته را چاپېر کړی دی. دوی د ارتداد سر لاري دي او په شهوت او نفساني غوښتنو پسې ځي. د دوی ملاتړ د منافقینو، تندلارو، له اسلام څخه د ناخبرو او بې پروا خلکو له لورې کېږي. ځیني وختونه دوی باخبره او صحیح برېښې خو په حقیقت کې دوی خپل دین د دنیا د یو ټوټې په بدل کې پلورلی. دوی خپل علم د مضر او کفري نظام په توجیه کولو کې کاروي. دوی ریښتیا له دروغو سره ګډوي. په پایله کې حلال او حرام، مکروه او منکر د امت د سترګو پر وړاندې ورک شول.

بل اړخ ته دغه سیاسي وحشیان هڅه کوي چې په «مغرورانه او بې رحمۍ» سره د اسلام د ایډیالوژۍ نفوذ له رینښې څخه وچ او له منځه یوسي، له دې وېرې چې د دوی واک ته خطر پېښ نه شي او د دوی د شتمنیو خزانې له منځه ولاړې نه شي. ځکه خو د مسلمانو سیاستوالو شتون لا نور ستونزمن او دا ډول سیاستوال د ګوتو په شمار دي، پرته له دې چې دوی په یو مخلصه ډله کې له قوي افکارو سره یو ځای شي. دا موږ ته د اندونیزیایي مبارز شخصیت وینا را یادوي:

«د اسلامي مراسمو لمانځلو ته به اجازه وي، اسلامي اقتصاد به کنټرولېږي او اسلامي ګوندونه به له رینښو څخه له منځه ځي.» محمد ناصر

## د یو مسلمان سیاستوال ځانګړتیاوې

له دې ډول حقیقي خطر سره د مخ کېدلو له امله زموږ لپاره ښه دا ده چې بیرته اسلام ته ور وګرځو.اقرا؛ د اسلام ټول نظریات د اخلاص په نیت ولوله او تر نظر یې تېر کړه. په خواشینۍ سره دا د هغو خلکو لپاره نادره ده څوک چې غواړي دا و ویني او څرګند یې کړي چې څه ډول د اسلامي سیاسي افکارو خزانه د حزب التحریر له لوري ټینګه ساتل شوې ده. په رینښتیا هم حزب التحریر په اسلامي هیوادونو کې شتون لري ترڅو یو سیاسي مفهوم چې د اسلامي سیاسي افکارو له درنې خزانې څخه استنباط شوی وي، وړاندې کړي. اسلامي سیاسي فکر د ابن تیمیه په وینا کې منعکس شوی دی چې وایي: سیاسي ځواک یو (عمده شرعي دنده) ده، دا چې په اسلام کې د سیاست (سیاسة) مانا په کور دننه او دباندې د امت د چارو تنظیم دی. سیاست د دولت او امت له لوري تر سره کېږي، ځکه دا دولت دی چې په مستقیمه توګه شریعت په عملي ډول پلی کوي، په ورته مهال کې امت د شریعت د پلي کولو پر وخت د دولت څارنه کوي. دا تعریف له هغه حدیث څخه اخیستل شوی دی چې د حکامو کړنې ورته په ګوته کوي، هغه فرضیت په ګوته کوي چې باید دوی اصلاح شي او د امت د چارو د تنظیمولو اهمیت ښیي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**(من لا یهتم بأمر المسلمین فلیس منهم)**

«هر هغه څوک چې د مسلمانانو چارو ته پاملرنه نه کوي، د مسلمانانو له ډلې څخه نه دی.»

پورته ذکر شوی تعریف دا په ډاګه کوي چې په اسلام کې د سیاستوالو شخصیت څومره مهم دی، ترڅو د امت چارو ته ځانګړې پاملرنه وکړي، نه دا چې د واک په پوړونو پسې وګرځي. یوازې په دې ټکي کې د اسلام د سیاست

مفهوم د مسلمانو سیاستوالو د دې خاصیت مخه نیسي چې په سیاسي حیواناتو بدل شي. نو په اسلام کې یو سیاستوال جوړېدل له هغو لوړو اهدافو څخه دی چې ریښه یې د خالق او امت پر وړاندې د مسولیت په احساس کې ده. واکمني یو مهمه دنده ده تر څو وتوانېږي د رهبرۍ غټ رول او اهداف د پېغمبر صلی الله علیه وسلم د امت پر وړاندې ترسره کړي. د سیاستوال شخصیت یوازې د اسلام له سیاسي چاپیریال څخه را زېږي داسې چاپیریال چې د ایمان له قوي فضا څخه اغېزمن دی، په کوم کې چې سیاست د عبادت د اعمالو په توګه پېژندل شوی دی. هر څوک په دې ډول سیاسي چاپیریال کې ژوند کولی شي، آن که مجبوره شوی هم وي، هغه که د یو حاکم په رول کې وي او یا د عامو خلکو په توګه وي.

د اسلامي سیاسي افکارو تر عنوان لاندې کتاب کې عبدالقدیم زلوم (د حزب التحریر دوهم امیر) په څرګنده توګه تشریح کوي چې د سیاستوال شخصیت د لوړ سیاسي رهبر په څېر دی، خو سیاستوال تل یو چارواکی نه وي او نه هم ټول چارواکي سیاستوال دي. یو سیاستوال دودیز رهبر دی او دې ته چمتو دی چې د دفتر د چارو واګی په لاس کې واخلي، په هر حال یوازې په دفتر کې هم نه. یو سیاستوال یو نوښت ګر او مبتکر رهبر دی. نوموړی د دې جرات کوي چې په داسې وخت کې ثبات وښیي چې نور یې نه ښیي او دی دغه راتلونکي ځانګړتیاوې لري: ۱) د رهبرۍ ذهنیت لري، ۲) د دې وړتیا لري چې د دولت چارې تنظیم کړي، ۳) د ستونزو د حل وړتیا لري، ۴) د دې وړتیا لري چې شخصي اړیکې او عمومي چارې کنترول کړي.

سیاستوال هغه شخصیت دی چې د دې وړتیا لري تر څو د علماوو کتابونه او افکار د ژوند په واقعیت کې تفسیر او ولېږدوي، د سیاسي فکر د را منځته کولو لپاره سیاسي رهبرۍ ته اړتیا شته. امت به سیاسي افکار د خپل ژوند په چارو کې تجربه کړي، ان امت به خپل مسولیت د ټولو هغو خلکو پر وړاندې احساس کړي چې د سیمې تر پولو بهر دي. د علماوو په ذهنونو او کتابونو کې د سیاسي افکارو ډېروالی د داسې سیاسي رهبرۍ له شتون پرته بې ګټې دی چې په ژوند کې یې نه شي پلي کولی. د دې لپاره چې یوه سیاسي رهبري د خلکو په منځ کې څرګنده شي، یو چا ته اړتیا شته چې د دې رهبرۍ د سیاسي افکارو په خلاق ډول ځان پوه کړي او له توپیر پرته یې پلي کړي.

مسلمان سیاستوال به هم را وټوکېږي؛خو که له دریو هغو شرطونو سره د دوی بنسټ کېښودل شي کوم چې له اسلامي عقیدې څخه سرچینه اخلي لکه: ۱) له ژوند څخه جامع او ځانګړی لید، ۲) د ټولنې لپاره د ریښتني خوښۍ لرلید رامنځته کول، ۳) د تمدن د عقیدې درک کول. د دغو دریو شرطونو په پایله کې د سیاستوال په

شخصيت کې د حساسيت او هوښیارۍ جوهر را منځته کېږي، څکه دی یو زيرک لرليد او ځانګړی اسلامي ليد لري چې ده ته وړتيا ورکوي ترڅو په خپل شا او خوا کې خطر درک کړي او دا وړتيا مومي چې په خپل حالت کې لوی بدلون راولي.

که وغواړو بيا ځلې مسلمان سياستوال ولرو، نو لومړی ګام په اسلامي سياسي افکارو سره د امت روزل دي او دا ور ښودل دي چې څه ډول د دوی چارې د اسلامي حکمونو په رڼا کې تنظمېږي. بيا خپل ځانونه دې ته برابرو کړو تر څو د نهايي بدلون لپاره په مبارزه کې د ځانګړي سياستوال خصوصيات خپل کړو او د امت په منځ کې ستر بدلون را منځته کړو. ستر بدلون د فکر او سياسي مبارزې له لارې را منځته کړو، لکه د بدلون لپاره د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دعوت تګلاره.

**﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾**

**[النور:۵۵]**

*ژباړه: الله سبحانه و تعالی له هغو کسانو سره چې ايمان راوړي او ښه عملونه وکړي، وعده کړې ده چې هغوی په ځمکه کې هماغه شان خليفه ګان وګرځوي لکه څرنګه چې يې له هغوی څخه مخکې تېر شوي خلك ګرځولي وو. د هغوی لپاره به هغه دين پر محکمو بنسټونو ودروي چې الله سبحانه و تعالیٰ ورته خوښ کړی دی . او د هغوی د وېرې (اوسنی) حالت به په امن ورته بدل کړي .هغوی دې زما بندګي کوي او زما سره دې کوم شی نه شريکوي او څوك چې له دې وروسته کفر غوره کړي، نو همدا کسان فاسقان دي.*

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**ليکوال: فيکا کومارا**